**UNITED NATIONS** **NATIONS UNIES**

# د رضاکاري د نړيوالې ورځې په مناسبت
# د ملګرو ملتونو د عمومي منشي پيغام
## د ۲۰۰۷ کال د ډسمبر د مياشتې ۵ نېټه

د ښځو د هواري نه رانيولې د سولې تر تامين، د بې وزلۍ له منځه وړلو او د زريزې پراختيايي موخو ته تر رسيدلې پوري زموږ د نړۍ چلينجونه زيات او پيچلي دي. د دې چلينجونو د له منځه وړلو په خاطر بايد موږ ټول حکومت، نړيوال سازمانونه، خصوصي سکتور او مدني ټولنه د يو بل سره کار وکړو. رضاکاري پدې هڅو کې يو لازمی رول لوبوي، خو لا تر اوسه هم د نړۍ په کچه د رضاکاري عمل په کافي توګه نه دی پيژندل شوی.

رضاکاري د ټولو ټولنو او فرهنګونو يوه ځانګړنه ده. دا د ټولنې د قوت، مقاومت، پيوستون او ټولنيز پيوستون يوه اساسي سرچينه ده، چې کيدای شي له دې لاری د ټولنو د شموليت د ودې له طريقه چې د ټولو د ګډون، برابری او تنوع درناوي ساتي د مثبتو ټولنيزو بدلونونو سره مرسته وشي. دغه ډول مرستې او همکاري د ملګرو ملتونو د دريو ستنو د کار--- د سولې د پرمخ بيولو د امنيت، پراختيا او د بشري حقونو او انسانی وقار د ساتلو لپاره حياتی دی. د دې لپاره د ملګرو ملتونو هره نمايندګی د رضاکاری روحيه د ملګرو ملتونو د رضاکاري د پروګرام په شمول لدې هڅې څخه تر لاسه کوي، ترڅو د خپلو فعاليتونو لاس رسی وغزوي.

د رضاکارۍ عمل همدارنګه زموږ ډله ييزي هڅې د اقليم د بدلون د مسلې سره د مقابلې کولو لپاره کوم چې د زريزې پراختيايي موخو ته د رسيدلو لپاره زموږ هڅې د جدي ګواښ سره مخامخ کوي ضروري ده. نن، د نړۍ حکومتونو د اندونيزيا په بالی کې د ملګرو ملتونو د اقليم د بدلون په بې سارې کنفرانس کې ګډون کوي. تمه کيږي چې هغوي به د خبرو اترو له لارې زموږ د نړۍ د ګرميدو د ستونزې پر سر خبرې اترې وکړي. خو يواځې حکومتونو هم نشی کولای دا مسله پرمخ بوزي. د دې پر ځای، موږ په هر ځای کې داسې خلکو ته اړتيا لرو چې د دې ستونزې لپار داوطلب شي، او د ټولنو سره د دې ګواښ په راکښته کولو کې مرسته وکړي او د اقليم د بدلون د اغيزې سره مطابقت وکړي.

د رضاکارۍ عمل همدارنګه د پايدارې اقتصادي ودې د داخلي حل لارو د جوړولو او طبيعي خطرونو سره د مقابلې لپاره د ظرفيتونو جوړول ضروري ده. د رضاکارۍ د دې نړيوالې ورځې په مناسبت، راځئ چې د رضاکارۍ توان د نړۍ په کچه د سولې د پرمختګ او انکشاف په اړه په رسميت و پيژنو. راځئ چې د نړۍ په کچه هغو ميليونونو انسانانو ته چې هره ورځ په کمه او يا زياته کچه خپل وخت، د نوښت قوه، ګډ مسوليت او تخليق د لا پايدارې ښې راتلونکې د جوړولوپه لار کې د رضاکارۍ لپاره ترسره کوي ستاينه وکړو.